خدمات حقوق مهاجرت برای افغان ها
ILSAA
IMMIGRATION LEGAL SERVICES
FOR AFGHAN ARRIVALS

https://ilsaa.acf.hhs.gov
ILSAAinfo@icf.com
833-286-0864

# د ترهګرۍ اړوند دنه منلو (عدم قبولیت) لاملونو معلوماتي پاڼه

د ترهګرۍ اړوند د نه منلو (عدم قبولیت) لاملونه ټریګ - (Terrorism-Related Inadmissibility Grounds - TRIG) یوه ډیره پیچلې موضوع ده. دا معلوماتي پاڼه به تاسو ته ترهګرۍ اړوند د نه منلو لاملونه ټریګ - (TRIG) در و پیژني، مګر تاسو باید د خپل ځانګړي وضعیت اړوند معلوماتو لپاره د یو وکیل سره مشوره وکړئ، ځکه چې هره قضیه توپیر سره لري.

**ټریګ - (TRIG) څه ته ویل کیږي؟** د ترهګرۍ اړوند د نه منلو لاملونه ټریګ- (TRIG) د مهاجرت او تابعیت قانون - (Immigration and Nationality Act -INA) یوه برخه ده چې د مهاجرت او تابعیت قانون په (INA section 212(a)(3B)) برخه کې بیې یادونه او د متحده ایالاتو د قوانینو په مجموعه کې (8 U.S.C., section 1182(a)(3)(B)) تر عنوان لاندې تدوین شوی ده. عموماً، هر هغه څوک چې د یو "ترهګرۍ سازمان" غړی وي یا څوک چې ترهګریز اړوند فعالیت کې ښکیل پاته شوی یا ښکیل وي د مهاجرت او تابعیت قانون (INA) لخوا «عدم قبولیت» (د نه منلو وړ) په توګه پیژندل کیږي، یعني ورته متحده ایالاتو ته د دُخولۍ اجازه نه ورکول کیږي او د مهاجرت زیاتو امتیازاتو ته پر شرایطو برابر هم نه پیژندل کیږي. د ټریګ - (TRIG) په اړه نور معلومات د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو ادارې - (U.S. Citizenship and Immigration Services — USCIS) د [ټریګ - (TRIG) په ویب پاڼه](https://www.uscis.gov/laws-and-policy/other-resources/terrorism-related-inadmissibility-grounds-trig) کې موندلای شئ.

**ټریګ - (TRIG) څوک اغیزمن کوي؟** ټریګ - (TRIG) ممکن د متحده ایالاتو هغه غیر اتباع اغیزمن کړي چې د وسله والو ډلو د ځینو فعالیتونو یا هم د هغوی سره تړاو لري چې د ټریګ- (TRIG) د شرایطو لاندې راځي. ځینې وختونه ټریګ - (TRIG) کولای شي په اشخاصو او هغه اعمالو باندې هم پلي شي چې معمولاً د «تروریزم» په توګه نه تعریف کیږي. د لا زیاتو هغه معلوماتو لپاره چې کوم ډول فعالیتونه یا اړیکې کیدای شي په ټریګ - (TRIG) کې حساب کړل شي، مهرباني وکړئ د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو ادارې د ټریګ - [(USCIS TRIG) ویب پاڼه](https://www.uscis.gov/laws-and-policy/other-resources/terrorism-related-inadmissibility-grounds-trig) وګورئ.

**آیا د ټریګ - (TRIG) لپاره معافیتونه شته؟** هو، مګر معافیتونه هرې قضیې ته په کتو او په اختیاری اساس تاکل کیږي. د مهاجرت او تابعیت قانون 212 (d) (3) (B) (i) په اساس، د بهرنیو چارو او کورني امنیت وزیران د لوی څارنوال سره په مشوره، کولای شي د قانون په دایره کې د ټریګ - (TRIG) لپاره پر معافیتونو پریکړه وکړي. ټول غوښتونکي به د سختې سکریننګ (دسابقې امنیتي چک) او ارزونې پروسې څخه تیریږي، او یوازې هغه کسان چې د دې هر اړخیز امنیتي چک څخه تیریږي د معافیت لپاره په پام کې نیول کیږی.

فیصله کونکې مامورین یوازې وروسته له هغه معافیت پلي کوي چې غوښتونکي په لاندې شرایطو برابر وي:

- هغه امتیازاتو ته پر شرایطو برابر وي چې دوی یې په لټه کې وي.
- د معافیت معیارونه پوره کړي.
- د متحده ایالاتو خوندیتوب او امنیت ته هیڅ خطر نه پیښوي.
- په ټولو حالاتو کې د معافیت مستحق او وړ وي.

د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو اداره - (USCIS) په خپل [ویب پاڼه](https://www.uscis.gov/laws-and-policy/other-resources/terrorism-related-inadmissibility-grounds-trig) کې د ټریګ - (TRIG) د معافیت په اړه معلومات وړاندې کوي، په شمول د معافیت ډولونه چې اوس لپاره ورته اجازه ورکړل شوې ده.

**زه باید خپل وکیل ته د ټریګ - (TRIG) او د ټریګ د د معافیتونو په اړه چې زما قضیې باندې قابل د تطبیق وي، څه ووایم؟**

د هر ډول ټریګ - (TRIG) معافیت لپاره تاسو باید په بشپړه توګه، ستاسو د پوره معلوماتو پر اساس، د هر ډول فعالیتونو او اړیکې چې تاسو ممکن د کوم ترهګریز سازمان یا وسله والې ډلې سره درلودل یا ښکیل واست، ښکاره او په ډاګه کړئ.

دا مهمه ده چې د امکان تر حده د هر مخکني سازمان سره یا هم د کومې وسله والې ډلې سره د فعالیت په اړه لا زیات توضیحات شریک کړئ، پشمول د هغه لاملونو او دلایلو چې ولې دا ډول سازمان سره او فعالیتونو کې ښکیل پاته شوي واست.

**اضافي سرچینې او معلومات:**

- د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو ادارې - (USCIS) د ټریګ - (TRIG) ویب پاڼه: [https://www.uscis.gov/laws-and-policy/other-resources/terrorism-related-inadmissibility-grounds-trig](https://www.uscis.gov/laws-and-policy/other-resources/terrorism-related-inadmissibility-grounds-trig)
- د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو ادارې ټریګ - (TRIG) معافیتونه [https://www.uscis.gov/laws-and-policy/other-resources/terrorism-related-inadmissibility-grounds-trig/terrorism-related-inadmissibility-grounds-exemptions](https://www.uscis.gov/laws-and-policy/other-resources/terrorism-related-inadmissibility-grounds-trig/terrorism-related-inadmissibility-grounds-exemptions)
- د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو ادارې د وضعیتي معافیتونو اړوند معلومات [https://www.uscis.gov/laws-and-policy/other-resources/terrorism-related-inadmissibility-grounds-trig/terrorism-related-inadmissibility grounds-trig-situational-exemptions](https://www.uscis.gov/laws-and-policy/other-resources/terrorism-related-inadmissibility-grounds-trig/terrorism-related-inadmissibility-grounds-trig-situational-exemptions)

د دغه سند مطالب یوازې د معلوماتي موخو لپاره چمتو شوی او باید د هیڅ ډول موضوع اړوند د حقوقي مشورې په توګه و نه کارول شي. د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره د متحده ایالاتو کمیټه (U.S. Committee For Refugees and Immigrants — USCRI) د متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدماتو وزارت، د ماشومانو او کورنیو ادارې څخه د D0423C0027140 نمبر قرارداد په اساس مالي سرچینې د آزادۍ سیالۍ له لارې ترلاسه کړې دي . د نویو راغلي افغانانو لپاره د مهاجرت حقوقي خدماتو پروژه ایلسا (Immigration Legal Services for Afghan Arrivals - ILSAA) سل سلنه د فدرال حکومت د مالي سرچینو لخوا تمویل کیږي.

USCRI